مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۶/۱۳

# نوې سوژه او د سلمان ماساژ

نن سهار مې یوه ښه سوژه ذهن کې اړوله را اړوله. ما ویل چې وینتان جوړ کړم او له سلمانۍ ووځم؛ نو لیکل به یې پیل کړم.

خو،

د قدرت کارونه و؛ استاذ چې د وینتانو له جوړولو خلاص شو؛ په فزیوتراپیست بدل شو. سر ته یې راته په ګوتو زورور ماساژ شروع کړ او بیا یې ورته سوکان ونیول. دومره یې وډبوه، چې اوس څومره فکر وهم؛ هغه سوژه مې ذهن ته نه راځي.

اخره کې یې غوښتل چې سر مې هم تاو کړي او له غاړې مې ټکونه وکاږي.

ما چې جنګي فلمونو کې د سر تاوولو په طریقه، د وژلو صحنې لیدلې وې، دواړه لاسونه مې ورته ونیول.
ما ویل:

Please!

مکوه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ